مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۴/۰۲/۲۷

سکون چیرې؟

پرون له یو نامعلوم نمبر نه زنګ راغی. اوچت مې کړ او ومې ویل: قربان وایئ!
له مقابل لوري کومه ښځه وه؛ ویې ویل: د قربان بچیه! د سهار له چای څښلو پرته دفتر ته ولې لاړې؟ څو واري مې درته ویلي چې د ماخوستن جنګ سهار هېروه؛ خو ته لکه چې په خبره نه پوهېږې؟
نن پخیر کور ته راشه! زه به دې خوښه شم. که د بچیو غم نه راتلی؛ وختي به مې لا پرېښی وای.
ښځې په یوې ساه زړه سپک کړ او زه هک حیران وم چې دا کومه خواره مېرمن ده چې د خپل خاوند په ځای ما باندې زړه تشوي. زما خو لا کوژده هم نه وه شوې .
هغه چې لږ غلې شوه؛ نو ومې ویل: اغلې! وبښئ! فکر کوم تاسې غلط نمبر ډایل کړی؛ خو مننه چې په یوه دقیقه کې د شاده شده زندګي احساس راکړ .
مېرمنې وویل: ما هم واده نه دی کړی.
زه سخت حیران شوم، چې هغې بیا وویل: د زړه د سکون له پاره غلطو نمبرونو ته زنګ وهم او چې د کوم نر غږ واورم، سابه یې ور په مالګه کړم، بیا مې نو طبیعت ښه سم جوړ شي.
موږ د سکون په لټه هاخوا دېخوا ګرځو؛ خو سکون زموږ له ژونده زرګونه میله لرې دی. موږ ان په دې هم نه پوهېږو چې کوم شی په راتلونکي زموږ د سکون باعث کېدلی شي او کوم نه؟
دا ممکنه ده کوم شی چې نن زموږ د سکون لامل دی سبا مو د بې سکونی لامل کېدلی شي؛ ښايي په همدې سبب وايي، چې ژوند د مسلسلې بې سکونی نوم دی؛ خو خلک لګیا دي او په توره تیاره کې ورک سکون پسې څراغونه لګوي، چې د ځینو رڼا یې همدا ډول غلطو ادرسونو ته ځي.

لیکنه: فرید احمد
ژباړه: سمسور ودان

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ